# د ډېټا (معلوماتو) راټولو په اړه پوښتنې او ځوابونه

د نوي زیږیدلي ماشوم د سکرینګ (معاینې) حالتونو لرونکي ماشومانو لپاره اوږد مهاله تعقیب

## د مینیسوټا د روغتیا څانګه (MDH) ولې د هغو ماشومانو په اړه معلومات راټولوي چې د مینیسوټا د نوي زیږیدلي ماشوم معاینه کې شامل حالتونه ولري؟

مونږ دا معلومات چې مونږ یې ټولوو د دې لپاره کاروو تر څو پوه شو چې آیا ماشومان او د دوی کورنۍ هغه ملاتړ او سرچینې تر لاسه کوي چې دوی یې غواړي او ورته اړتیا لري. مونږ د والدینو، د روغتیا پاملرنې چمتو کونکو، ښوونکو، د عامه روغتیا ځایي نرسانو، ټولنیز سازمانونو، او نورو سره کار کوو لکه څنګه چې اړین وي تر څو کورنۍ د سرچینو، خدمتونو او ملاتړ سره وصل کړو. په خدمتونو کې ښایي هغه شامل وي چې د ودې او پراختیا ملاتړ کوي، لکه ابتدایي مداخله، عامه روغتیا، او طبي پاملرنه. دا سرچینې او خدمتونه کورنیو ته معلومات ورکوي تر څو د پریکړه کولو په وخت یې په اړه فکر وکړي. مونږ کار کوو تر څو خدمتونه وړاندې کړو، د کارولو لپاره یې اسانه کړو، او د کورنیو لپاره یې ګټور وګرځو. مونږ د وخت په تیریدو سره دا هڅه هم کوو چې په پایلو پوه شو او د ماشومانو لپاره یې لا ښه کړو. هغه معلومات چې مونږ یې ټولوو مونږ سره مرسته کوي چې د عمومي رجحاناتو څارنه وکړو او مونږ ته ښیي چې کوم څه کار کوي او کوم څه نه.

## MDH څنګه د یو ماشوم د تشخیص څخه خبریږي؟

پس له دې چې د ماشوم د روغتیا پاملرنې چمتو کونکی یو حالت تشخیص کړي، دوی یې MDH ته راپور ورکوي [Minn. Stat. § 144.125, subdivision 1(b)].

## د دې حالتونو اړوند ماشومانو په اړه MDH کوم ډول معلومات ټولوي؟

مونږ ډیموګرافیکي معلومات ټولوو او ښایي چې د ماشومتوب پر مهال د سکرینګ، تشخیص، خدمتونو او ملاتړونو، مداخلو، او پایلو په اړه معلومات ټول کړو. د هغو معلوماتو په اړه چې مونږ یې راټولوو د لا مفصل معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د MDH د ځانګړي روغتیایي اړتیاو لرونکو ماشومانو او لویانو برنامې سره په 1-800-728-5420 اړیکه ونیسئ.

## دې معلوماتو ته څوک لاسرسی لري؟

یوازې د MDH ټاکل شوي کارمندان او قراردادیان دې معلوماتو ته لاسرسی لري. MDH محرمیت خورا جدي نیسي. د معلوماتو د محرمیت په اړه سخت قوانین د دې معلوماتو ساتنه کوي (Minn. Stat. § 13). کارمندانو او قراردادیانو ټولو د معلوماتو د محرمیت روزنه بشپړه کړې ده. په ډیټابیس کې معلومات په احتیاط سره خوندي ساتل کیږي. دا عامه معلومات نه دي. سربیره پر دې، مونږ یوازې په مجموعي توګه د معلوماتو راپور ورکوو. دا په دې معنی چې د یوې ډلې لپاره شمیرې یو ځای شوي او لنډیز

Minnesota Department of Health
Children & Youth with Special Health Needs
PO Box 64975
St. Paul, MN 55164-0975
800-728-5420
health.cyshn@state.mn.us
www.health.state.mn.us

December 2022

*To obtain this information in a different format, call: 800-728-5420.*